Zabardast
Deer aala
Sta lekal bilkul thek di

# PASHTO ASSIGNMENT ABID ALI # 64

___/___/202 Day:______

## سوال: د خوشحال خان خټک په رزمیه شاعری باندې بحث وکړئ۔

خوشحال خان خټک یو لوئی ادیب او شاعر نه وو بلکه یو بهترین قلم ځو او جنګیالی هم وو - د ده رزمیه شاعري په دنیا کښې د عزتمند پاتې کیدو دپاره د مزاحمت، د وطن دپاره سر په تلي کښېښودو او د مغل سره د دشمنۍ د اثارو نه متاثره ده - خوشحال خان ځان بخپله هم یو ښه جنګیالے ګڼي او په دې فخر هم محسوسوي. لکه یو ځائے کښې وائي چې

شعر
لا په خوب کښې په لړزه پړیوځي لکه کړیږه
چې د چا تر غوږ زما د لوړې شمشېر ټک دے
که په دا دور مي ګوري هغه ځه یم
چې مي داغ په خاطر ایښے د اورنګ دے

## 2 د خوشحال په شاعری کښې د ځوان دپاره نصیحت

د خوشحال رزمیه شاعری ځوانانو ته په دنیا کښې د کامیابۍ او عزتمند ژوند تیرولو درس ورکي او طریقه ورته هم ښیائي چې څنګه یو ځوان کامیابه کیدے شي

## خوشحال بابا وائي:

په جهان د ننګيالي دي دا دوه کاره
يا به اوخوري ګکرۍ يا به کامران شي

په دې شعر کښې شاعر د ټولو غیرت مند ځوان
د پاره دوه لارې سیده کوي چې دغه ته
په دې دوه لارو کښې په یوه خامخا تلل دي
او بله څه چاره نه نشته - وائي چې دے
خو یه په دې خپل کوشش کښې د محنت
باوجود کامیاب نه شي او مړ به شي یعني
او یا به دے کامیاب شي - د خوشحال په
نظر کښې دا دواړه صورتونه کامیابي ده - که
دے مړ شي نو هم په دنیا کښې به د ټولو بهادر
په نوم یادیږي او عزت به پیداکوي او که
کامیاب شي نو بیا خو هم دغه مقصد پوره شو -
په دواړو صورتونو کښې عزت حاصلیږي کوم
چې په دې دنیا کښې د ټولو انسان د پاره ضروري
چیز دے - د خوشحال بابا په نظر کښې ده
بے غیرته د ژوند هیڅ څه قدر نشته دے -

## Q2 د خوشحال بابا رزمیه شاعري د وطن د پاره

د خوشحال بابا د شاعرۍ نه داسې معلومیږي
چې د ده مینه د خپل وطن د پاره ډیره زیاته

دہ او دوی د وطن دپاره د هر قسم کوشش او جنګ په خوا کښې دي ـ خوشحال نه صرف لوړو پښتو ته د خپل وطن او ملت دپاره د لوړې راغستو بلنه ورکړې بلکه بخپله ئې د خپل عمل نه هم ظاهره کړې ده د وطن دپاره ئې د دشمن خلاف لوړه راغستې چې د کوم ذکر دي شعرونو نه ظاهره ده

ے

پس له ننګه دے دا الزام
د خوشحال د خاطر جزام
یا به ولے مخ هلکے له
یا مغلو سره رزم

په دی اشعارو کښې دا ظاهره ده چې خوشحال بابا د زندان نه د راخلاص شو نو د مغل خلاف د لوړې راغستو اراده ئې وکړه او د مغل نه د خپل وطن د آزادولو کوشش شروع کړ ـ د دغه شان د وطن مینه ئې د لو بل شعر نه هم معلومیږی چې څه دا رنګ دے.

ے

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالے د زماني خوشحال خټک یم

غرض دا چې د خوشحال خان په رزمیه شاعری

__ /__ /202 Day: ____

کښې د وطن سره ده بې حده مينې علامتونه
ډېر زيات دي او ډېره شاعري يې د وطن
د حفاظت د کوششونو نه چاپېره ځانګړي ـ

## 3) د خوشحال بابا رزميه شاعري د مغلو خلاف

د خوشحال بابا په رزميه شاعرۍ کښې
دا ښکاره ده چې د خوشحال د مغلو سره
دشمني وه او مغل باچا ته يې د پښتو
د لو دشمن په نظر کتل لکه په شعر کښې
وائي ـ

~~چې په قوم پښتون نوښېږي خوشالېږي~~
~~اورنګزيب عجيبي باچا دے د اسلام~~

د دې شعر نه دا معلومېږي چې د مغل باچا
اورنګزيب چې د لو اسلامي باچا په قوم يې
شهرت لرلو خو د دې باوجود خوشحال خان
بابا اورنګزيب ته د پښتون د دشمن په نظر
ګوري او پښتنو ته دا نصيحت کوي چې
ګورے د اورنګزيب په دغه اسلامي
جامه د کوکه نه شئ ځکه چې په
اصل کښې دا د پښتنو دشمن دے ـ
د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې د مغلو خلاف
شعرونو نه د مغل حکومت د ليګاوټ خلا
بوي راځي ـ لکه وائي چې

___/___/202 Day:______

اطاعت د اولاامر ځکه نه کوم
خلیفه د زماني په زړه کافر دے

دا شعرونه د مغل حکومت نه د خوشحال بابا د بغاوت ګواهي ورکوي او وائي چي اګرچه د اسلامي احکامات په رڼا کښي د مسلمان امير اطاعت لازمي دے خو ځکه د دې امير اطاعت ځکه نه کوم چي دا امير په ښکاره خو مسلمان ښکاري دے خو د زړه نه کافر دے ځکه چي د پښتنو مسلمانانو دشمني کوي او ډېره ئې لټوي - پس معلومه شوه چي د خوشحال بابا رزميه شاعري د مغل خلاف د شاعرۍ نه ډکه ده -

## ٤) د خوشحال بابا په رزميه شاعرۍ کښي د اوسني دور د پښتنو دپاره سبق:-

د خوشحال بابا رزميه شاعري د اوسني دور د پښتنو دپاره ډېره فائده منه ثابت کېدے شي که چرته پښتانه په صحيح معنو په دې اول ځان پوهه کړي او بيا پرې عمل اوکړي - د خوشحال بابا رزميه شاعري پښتنو ته د ټولو د حقيقتو حقيقتونو د شلېدلو درس ورکوي ، د دوښ

او دښمن د پېژندو طریقه ورښائي او
د اتفاق او اتحاد د برکت مثالونه ورکوي
کله دائي چې

~~کړ~~ بهره چاره د پښتنو تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډیر ارمان
که توفیق د اتفاق پښتانه موي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

د دې اشعارو نه دا ظاهره ده چې ~~کړ~~ ده
نن سبا پښتانه هم د کمر چا نه ښه دي او
په دنیا کښې لوی ښه قوم پیدا کولے شي
او د خپلو منزلو په شان په دې علاقو
په بیا حکومت او بادشاهي کولے شي که
چرته دوی خپلې باهمي جګړې ختمې کړي
او د اتفاق نه کار واخلي مثله چې
د اتفاق او دیلو ځائے والي د وجې نه دغه
د لښتو ګیډے نه ماتیږي هم دغه شان که
پښتانه یو ځائے شي نو په دای دنیا کښې
داسې قوت نشته چې د جهاد د پښتنو
قوم په مخه کښې ~~دریلې~~ ودریږي او ده
دوئ د ترقۍ او پرمختګ لاره اونیسي

د دې لعل بخش ګوهر دا شو چې
د خوشحال بابا رزمیه شاعري په اصل
کښې د پښتنو ځوان د غیرت او جهاد ته
قصه ده، دهغو نکو ځوان د خپل وطن سرن

___/___/202 Day: ______

بې حده حسینه ده، او د یو احساس نه ده
ډک انسان د ساقرانو خلاف بو دریدل دي۔
دغه شاعري د پښتو ادب سره یو احسان
دے او د پښتو د پاره د یو محترین تحفې
نه کمه نه ده۔ خدائ دې اوکي چه
پښتانه د خوشحال بابا شاعري په صحیح
توګه خیله کړي او عمل پرې اوکړي
او د خوشحال بابا روح ته د خوشحالۍ
او راحت یو وجه جوړه شي۔